د پوهنې وزارت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او د ښوونکو
د روزنې معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي
کتابونو د تالیف لوی ریاست

# سبق د ټولو حق

دریم ټولګی، لومړی سمستر، لومړۍ سویه




د آزمایښتي دورې مرستندوی توکي

پښتو

**د پوهنې وزارت**
د تعلیمي نصاب د پراختیا او د ښوونکو
د روزنې معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي
کتابونو د تالیف لوی ریاست

# سبق د ټولو حق

د دریم ټولګي د دریمې اونۍ لپاره

پښتو
افغانستان

د لوستلو دا مرستندوی کتاب د «افغان ماشومان یې لولي» پروژې
په تخنیکي مرسته تألیف شوی دی

ليکوال: سرمؤلف محمد سهراب ديدار
شعر: پير محمد کاروان

اېډېټور: د مؤلف مرستيال نصير احمد امرخېل

انځورګره : بهشته محسني

**د تصحيح کمېټه**

**----**

اسلامي: ګل آقا شايق

کلتوري: غلام سرور ګلابزی

ژبنۍ : فروزان خاموش

بسم الله الرحمن الرحیم



ملالۍ به د جاوېد د کِتاب تصویرونه کتل.
د کِتاب تصویرونه يې ډېر خوښېدل.

جاوېد به د کتاب کیسې ورته
لوستلې.
یوه ورځ ملالۍ پلار ته
وویل:
پلاره! ما هم په ښوونځي کې
شامله کړه.
پلار يې وخندل، بیا يې
وویل:
ته په ښوونځي څه کوې؟



ملالۍ خفه شوه.

بله ورځ ملالۍ لوبې کولې.

دا ترانه یې ویله:

ښوونځی ښه ځــــای دی
زما په زړه ځـــــای دی

زه ښوونځي ته ځــــــمه
پکې تــعلیم کـــــــــومه

ښه کِتابونـــــــــه وایـــو
ښــــه سَبقــــونه وایـــو



پلار يې ترانه واورېده.

پوښتنه يې وکړه:

لورې! دا ترانه دې چېرته

زده کړې ده؟

ملالۍ وویل:
دا مې د جاوېد له کتابه زده کړې ده.
جاوېد چې لوستله، ما هم زده کړه.
یوه بله مې هم زده کړې ده.
درته وېې وایم؟
پلار موسکی شو. وېې ویل:
هو، وېې وایه!
ملالۍ دا ترانه وویله:



دنیـــــا بنـــــــکلي په سَبق
سَبـــــق دی د ټولـو حـق
کـه هَلــک دی که نجلۍ
که ماشوم دی که بوډۍ
چې سبق وي د چا یاد
پرې ودان به وي هېواد




همدا وو چې پلار ملالۍ په

ښوونځي کې شامله کړه.

درسي کتابونه په پوهنې وزارت پورې اړه لري. پېرودل او پلورل يې په کلکه منع دي. له سرغړوونکو سره به قانوني چلند وشي.